مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۲ / ۱۲ / ۲۲

# امریکا دې د دوحا تړون پټې برخې افشا کړي

د ۲۰۲ کال د فبروری په ۲۹ مه، د قطر په دوحا کې امریکا د طالبانو سره یو تړون چې اوس د دوحا تړون په نوم یادیږي، لاسلیک کړ. دا تړون د ولسمشر اشرف غني په مشری د افغان انتخابي حکومت له ګډون او د تړون له منځپانګې څخه د حکومت له خبرتیا پرته، لاسلیک شو.

امریکا او د اروپا زیاتو امریکا پلوه هیوادونو، افغانستان سره هغه مهال ستراتیژیک تړونونه درلودل او تر دغه تړونو سربیره، امریکا افغانستان سره امنیتي تړون هم درلود چې اوس یې په یو طرفه ډول لغوه کړی. دغه تړونونواو د افغان قانوني او انتخابي حکومت ته په نه پام، د دوحا تړون طالبانو سره امریکا په داسي بڼه لاسلیک کړ چې امریکا وروسته خپله اعتراف وکړ چې په تړون کې یو شمیر پټې مادې او ضمیمې هم شته. امریکا او طالبانو تر اوسه په دې تړون کې هغه پټې مادې او ضمیمې نه دي، افشا کړي.

اوس چې له تړون څخه نږدې دوه کلونه تیریږي، د تړون د پټو مادو او ضمیمو په اړه؛ سړی قضاوت کولای شي. یو وخت د پښتونخوا مشر عبدالولي خان د حالاتو د وضاحت لپاره د یوې پوښتني په بڼه مثال راوړی وو« هغه څه شي دی چې تریو دی، ژیړ دی او ګرد دی؟» معلومدار چې نارنج دی.

**د طالب یو نیم کال کړنو او د هغو په اړه د امریکا او لویدیځ اغماض ته چې ځوک ګوري، پوهیږي چې د دوحا تړون کې به پټې مادې او ضمیمې څه وي.**

په طالبانو کې معلومداره **توره کړی** د(CIA ) او (ISI) ګډه پروژه ده. امریکا او لویدیځ د دوحا تړون په مرسته طالبان پر افغانانو واکمن کړل. د یوې پلان شوي کودتا په مټ یې د افغان قانوني او انتخابي حکومت ړنګ کړ. په سل ګونو زره ملي کادردونه یې له هیواده وویستل او په لویلاس یې افغانستان د طالبانو مدرسو ته ورحواله کړ.

**کومه تشه چې امریکا او لویدیځ په افغانستان کې رامنځته کړه د دوحا تړون په مټ طالبانو په اسانی سره ډکه کړه!**

د طالبانو د لوړو زده کړو وزیر ملا ندا محمد ندیم چې پوهنتونونو کې د نجونو په زده کړه کوم بندیز اعلان کړ، د بندیزونو دا بهیر د ۲۰۲۱ کال د اګست تر ۱۵ مې راهیسې له طالبي واکمني راپیل شوی او پړاو په پړاو د ژوند په نورو برخو کې هم پلي کیدونکی دی.

امریکا او لویدیځ چې په منافقت سره د طالب دا ډول بندیزونو ته هغه هم یوازې په لفظ کې کوم غبرګون ښيی، د دې لپاره دي چې د ځان په اړه د افغانانو او نړیوالو کرکه، پټه کړي!

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن په دې اړه په ویناپانه کې یوازې دومره ویلی«دا پریکړه به د طالبانو لپاره ناوړه پایلې ولري». د دې په تعقیب بریتانیا هم د طالبانو تازه پریکړه د ښځو پر حقوقو یو بل برید او د **خپلو ژمنو ماتي بللی ده.**

اوس پوښتنه دا ده چې طالبانو، امریکایانو سره د دوحا په تړون کې کومې ژمني کړي چې افغانان تري خبر نه دي او BBC او لویدیځ تري یادونه کوي.

**افغانان له امریکا غواړي چې طالب سره د دوحا په تړون کې پټې مادې او ضمیمې نورې افشا کړي.**

د دغه مادو او ضمیمو له افشا پرته، د طالب پر کړنو د امریکا او لویدیځ هر ډول نیوکه او ګوتڅنډنه د افغانانو او نړیوالو د لا فریب او تیرایستلو په موخه ګڼل کیږي.

بیځایه نه ده وwایو، د هغو افغانانو کړچار هم؛ د دوحا تړون تر ناوړو پایلو کم نه دی چې طالبان یې سپین چرګان ګڼل او ځیني په دې اند ول چې طالبان تر پخوا ښه او دیموکرات شوي دي. د افغانستان قانوني او انتخابي ولسمشر اشرف غني په یوه تازه څرګندونه کې ویلي«د طالبانو د پریکړو او په هیواد کې د بحران د لا پراخیدو مسوولیت د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هغو اورګانونو او عناصرو هم دی چې په منظم ډول یې د طالبانو د سپینولو لپاره تبلیغات کول او ادعا یې کوله چې دا ډله بدله شوې او د شرایطو په اړه یې درک ډېر شوی دی.»

بلخوا ولسمشرغني له لوړو زده کړو د افغان نجونو د بې برخې کولو لپاره د طالبانو پرېکړه په کلکه او توندو الفاظو غندلې ده. ده په دې اړه په خپله اعلامیه کې ویلي:«اصلي ستونزه دا ده چې واکمنه ډله مشروعیت نه لري. د دې لپاره چې دا ډله په نادیموکراتیک ډول واک په لاس کې لري، افغانستان یې غصب کړی او خلک یې یرغمل کړي دي.»




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ